# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



داکتر کریم غروال

۱۲ اگست ۲۰۲۱

## «...افغان ملت د اجنبیانو له خوا نشی غلام کولای ...»

په جرمنی ژبه کښی ویل کیږی چی : اوس موږک د کڅوړی څخه راووت ! د امریکا لعنتی او شر جوړونکی واقعیت په گوته شو یعنی افغانان باید خپلو مینځو کښي جنگونه سره شروع کړی اما دی خائینینو قصداً هیر کړی دی چی وروسته د افغان ملت ستره قربانی ظالم شوروی د افغانستان څخه وشړلو او د شوروی غلام کمونیستانو ناستومانه د منافقت هڅی شروع کړی اما د ظالم امریکا ، انگلیس او پنجابی پاکستان (همدارنگه د اخوندی ایران غلامان) دا تربیه قاتل تنظیمونه وحشیان په کابل راخوشی کړل او د کابل اوسیدونکی ئي قتل عام او چور چپاول ئي شروع کړل او کابل کښی اته حکومتونو جریان درلود.

په ۱۹۹۵ کال کښي موفقیت تر لاسه شو چی ددی قاتلینو څخه سلاحگانی ټولی شی او کابل ددی قاتلانو څخه نجات ومومی ، شیږ میاشتی دسلاح گانو فعالیت مثبت شروع او وروسته له شپږو میاشتو امریکا (خلیلزاد خائین) د پنجابی پاکستان په کومک ئي تربیه شوی طالبان رامینځ ته کړل او د سلاح گانو جمع کولو گروپ ئي له مینځه یووړ او دا تهدابی تربیه طالبان ئی رامینځ ته کړل او وروسته ئی د افغانستان اشغال لپاره د نیویارک برجونو ورانولو ډرامی په واسطه طالبان په اتفاق سره پنجابی پاکستان ته ولاړل او امریکا او انگلیس د خلیلزاد په کومک دا قاتل تنظیمونه ، کمونیستان او تربیه شوی دیموکراتان ئی د همه شمول شعار لاندی د قدرت خاوندان کړل او د ډالرو باران ئی پری شروع کړ ، وروسته ئي هلی ځلی شروع کړی چی طالبان د یادو قاتلو او ملی خائنینو شعار لاندی سره یو ځای کړی اما حقیقت کښی هڅی روانی دی چی ددی قاتلینو په وسیله افغان ملت تباه کړی او اجنبیان د افغانستان دوامداره استعمار تر لاسه کړی اما نظر و کامل معلومات ته افغان ملت د اجنبیانو له خوا نشی غلام کولای او همدارنگه د افغان ملت تجزئي باندی به موفقیت تر لاسه نکړی شی!!!!!